د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت
د ارشــــاد، حج او اوقـــافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو
ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

۱۷/ شعبان المعظم /۱۴۴۴ هـ، ق موافق د ۱۹/ حوت /۱۴۰۱هـ ش

# د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله مقام او مرتبه

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله، رضينا بالله رباً، وبالاسلام ديناً، وبمحمد صلى الله عليه وسلم نبياً، وبابى حنيفة مذهباً واماماً.اما بعد:

د تاج الأئمه او سراج الأمه امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله نوم نعمان د پلار نوم ئې ثابت او د نيکه نوم يې زوطَی دی، اسم کنيه يې ابوحنيفه او لقب يې امام اعظم ؤ چي د هجرت په (۸۰) اتيايم کال کې د عراق د کوفې په ښار کې زيږيدلی دی او په ۱۵۰ هـ کې وفات شوی دی، قبر يې د بغداد په اعظميه ښار کې د خيزران په قبرستان کې نړيوال شهرت لري.

امام ذهبي وايي: امام اعظم صاحب په ۱۵۰ هـ، ق کې د زهرو په ذريعه په شهادت ورسول شو.[اعلام النبلاء]

امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه د اسلام له سترو ارکانو څخه شميرل کيږي او دعراق د مدرسې مؤسس او بنيان گذار دی. امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه د نورو څلورو امامانو څخه علما او سناً مشر ؤ.

ځينې تاريخ پوهان ليکي، چې امام ابو حنيفه رحمة الله عليه نيکونه د پروان د سيمې د خواجه سياران يا د استرغچ د کلي ؤ چې نيکونه يې له کابل څخه کوفې ته تللی دی.

خطيب بغدادي په تاريخ بغداد کې ليکلي دي چې اسماعيل د حماد زوی او د امام اعظم لمسی ؤ ويلي چې: زما په خدای قسم دی چې زموږ کورنۍ ته هيڅ وخت مريتوب لاره نه ده موندلې، نيکه مې په ۸۰ هـ کال کې زيږيدلی او ثابت نيکه مې په کوچنيوالي کې د علي بن ابي طالب رضي الله عنه په حضور مشرف شوی او حضرت علي رضي الله عنه هغه ته او دهغه اولاد ته د خير دعا کړې ده او مونږ دالله تعالی نه اميد لرو چې د علی رضی الله عنه دعا به زمونږ په هکله قبوله کړی وي.[ تاريخ بغداد].

## د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د (ابوحنيفه) لقب وجه :

په دې باره کې مختلف اقوال شته . (۱) قول : داچي حنيفة مؤنث د حنيف دی او معنی دحنيف ده (المسلم المائل الي الدين الحنيف) او علامه ابن قيم رحمه الله يي معنی کړيده ( المقبل علي الله المعرض عمن سواه) او د قرآن کريم بيان (فَاتَّبِعُوا مِلَّةَ ابرهيمَ حَنِيفًا). او کلمة د ( أبو) دلته په معنی دملازم او صاحب سره ده معنی دا شوه چې امام صاحب دملت ابراهيم سره لازم او ملازم او ور مائل او مقبل ؤ ، يعنې په ملة ابراهيم باندې مين او قربان وه نوابو حنيفة مخفف دابو الملة الحنيفة نه دی .

دوهم قول:- داچې داهل عراق په ژبه او لغت کې (حنيفة) دوات دسياهي بوتل ته وايې او د (ابو ) معنی همغه ملازم او صاحب ده نو معنی دا چې وه امام صاحب ملازم دسياهي بوتل سره دا ځکه چې امام صاحب دعلمي وسائلو سره ډير زيات تعلق لرلو نو هم پدې وجه ابو حنيفة سره مشهور شوی . (عقود الجمان)

دريم قول : داچې دده د لور نوم حنيفة وه معنی داچې پلار د حنيفه بيا به دا اسم کنيه شي ، دا ډير ضعيف قول دی ځکه د امام ابو حنيفة رحمه الله د حماد نه ماسوی نور اولاد نه ؤ په اتفاق دټولو اصحاب المناقب باندي (عقود الجمان).

دامام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه صورت اوسيرت:

امام ابويوسف رحمه الله فرمايي؛ چې امام ابو حنيفه رحمه الله درميانه قد درلودلو، نه ډير اوږدو و اونه ډير لنډ ؤ او په انسانانو کې د ډير ښاسته صورت خاوند ؤ او په خبرو کې د ډير زيات بلاغت خاوند ؤ چې د خپل مقصد او مراد څخه به يې تعبير په شه شان سره کولو او بيان به يې ښه وضاحت درلود، مجلس يي ډير زيات خوندور ؤ.

عبد الله بن مبارک او فضل بن دکين رحمهما الله وايې چې امام ابو حنيفه رحمه الله د ښائسته مخ اود خائسته جامو او د خائسته پنبو او پيزار خاوند ؤ ، او ډير زيات دهيبت او دهشت او رعب څښتن ؤ. [عقود الجمان]

حماد بن ابي حنيفة رحمهما الله وايي، چې امام ابو حنيفة رحمه الله د زياتو عطرو او خوشبو استعمالونکی شخصيت ؤ او د خوشبو په استعمال کې يې شهرت درلود . کله چې به کورته راتلو او يا به تلو مخکې ددينه چې څوک يې ووينې دهغه خوشبو به يې محسوسوله او دخوشبونه به پيژندل کيدو.

ابو مطيع رحمه الله وايې چې امام ابو حنيفة رحمه الله باندې مې د جمعې په ورځ يو څادر او يو قميص وليدلو چې دواړه د څلور سوه درهمو ؤ.

سعيد بن منصور وايې چې فضيل بن عياض رح به ويل چې امام ابو حنيفة رحمه الله يو فقيه سړی ؤ چې په فقه او پوهه باندې معروف ؤ ، هم په تقوی باندې مشهور ؤ او د پراخه مال خاوند ؤ، هغه په سخاء کې شهرت درلود، هر څوک به چې ورته راغی ورته به يې څه ورکول ، د علم په زده کړه کې د زيات صبر خاوند ؤ . په شپه او ورځ دواړو کې به يې ډيری کمې خبرې کولې زيات چوپ او ارامه شخصيت ؤ، تردې پورې چې کله به يوه مساله د حلال يا حرام را غله نو ډير زيات ښه په حق سره جواب ورکونکی و، او د بادشاهانو د مال او تحفونه به يې ځان ساتلو.. [تبييض الصحيفه]

يوځل معافي بن عمران الموصلی په خپله حلقه د درس کې ناست و، او د تعليم و تعلم خبرې يې کولې په دې دوران کې هغوی او فرمائيل چې په امام ابو حنيفة رحمه الله کې لس خبرې داسې دي که چيرته د هغې نه يوه خبره هم په چا کې وای نو هغه به د خپلې قبيلې رئيس او سردار وای:

(۱) پرهيزګاري .
(۲) رښتيا ويل.
(۳) عفت ( پاک دامني ) .
(۴) د خلقو خاطر او مدارات کول .
(۵) رښتوني محبت کول .
(٦) په نفعمند و خبرو توجه کول.

(۷) رښتني خوبونه .
(۸) صحيح او درستې خبرې کول .
(۹) زياتره خاموش اوسيدل
(۱۰) دعاجزه خلقو مد دکول که به دوست و و اويا د ښمن .

## امام اعظم رحمة الله عليه جليل القدر تابعي ؤ:

امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله هغه جليل القدر تابعي ؤ چې د زياتو صحابه کرامو سره يې ملاقات شوی ؤ، هغه لوی عـالم ، متواضع او ښهايا شخصيت ؤ.
امام صاحب په داسې زمانه کی پيدا شوی وو چې لوی لوی جماعتونه دصحابو موجود وو ، نودا دهغې اهل قرون نه دی چې نبي کريم يې په بهتروالي او عدالت باندې ګواهي ورکړې ده.
امام ابو حنيفه صاحب تابعي دی بعضي صحابه يې ليدلي دي او اوريدل يې هـم ترينـه کـړې دي يـو جماعـت مصـنيفينو د مناقبو دامام صاحب ويلي دي ، چې امام صاحب دا تو صحابه سړيو اويوې ښځې نه اوريـدل کـړي دي او بعضـو ويـلي دي چې اوه سړي يو ښځه وه بعضي ويلي دي چې شپږ سړي يو ښځه او بعضو ويلي دي چې پنځـه سـړي او يـوه ښـځه ده او بعضو زيات ښودلی دی، اجمالي نومونه ديوځو به ذکر کړو.
(۱) حضرت انس بن مالك له المتوفي سـ ۹۳.هـ .
(۲) حضرت عمرو بن حريث له المتوفى سـ ٥٨٥.
(۳) حضرت ابوطفيل عامر بن واثلة له المتوفى سـ۱۰۲هـ .
(٤) حضرت السائب بن يزيد له المتوفى سـ ۹۹هـ .
(٥) حضرت عبدالله بن بسرعه المتوفى سـ ٩٦هـ.
(۷) حضرت محمود بن الربيع المتوفى سـ ۹۹هـ .
(۹) او يوه ښځه حضرت عائشة بنت عجرد .
او همدارنګه د عبد الله بن انيس او عبد الله بن الحارث الزبيدی او جابر بن عبد الله و معقل بن يسار او سـائب بـن خـلاد او محمود بن لبيد رضی الله عنهم څخه يې هم اوريدل کړي دي.
امام ابوحنيفة رحمة الله عليه د خپلې زمانې د مشهورو لويو لويو تابعينو محدثينو او فقهاؤ څخه دعلم زده کړه کـړی وه چـې دده د استادانو شمير څلورو زرو ته رسيږي چې د هغوی له جملې څخه امام حـماد بـن ابي سـليمان، امـام نـافع مـولی ابـن عمر، امام زيد بن علي، امام جعفر صادق، دمکې مفتی عطاء بن أبي رباح، ، امام نخعي، امام علقمه، امام ثوری ديادولو وړ دي.
امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه لوی لوی امامان او مجتهدين روزلي دي چې هر يو يي په خپله زمانه کـې د علـم، فتـوا، قضاء او تقليد مرجع وه.
امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله په څلورو امامانو کې مشر او د اسلامي امت وتلی مجتهد ؤ، حنفي مذهب يوازينۍ مذهب دی چې د عثماني خلافت په دوره کې يې په ټول اسلامي امت ۶۰۰ کاله حکم کړی دی او همدارنګه خلافت مغوليه کـې هم رسمي مذهب د احنافو وو؛ نو همدا وجه ده چې حنفی مذهب نسبت نورو مذاهبو ته په نړۍ کې زيات پيروان لري.
دارنګه امام ابوحنيفه رحمة الله عليه هغه شخص ؤ چې ٥٥ ځلې يې مکې او مدينې ته سفر وکړ چا ورتـه وويـل چـې دا تاسو ولې دومره حجونه کوئ؟ هغه ورته وفرمايل: چې زما موخه يوازې د حج ادا کول يا ترسره کول نه دي؛ بلکې زه

غواړم د مکې مدينې بيا هلته راتلونکو علماء لکه له مصر شام او نورو ځايو نـه راتلونکـو علـماؤ سره ناسـته ولاړه، خـبرې اترې ولرم ترڅو ما ته د رسول الله صلى الله عليه و سلم ټول احاديث او مسائل را ورسيږي.

د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په باره کې د قرآن کريم او نبوي احاديثو بشارت:

بشارت دقرآن اود حديث پرامام ابوحنيفه او دا بشارت د محمد رسول الله لويه او ښکاره معجزه ده.

الله تعالى فرمايي:(وَأَخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ) جمعه: ٣

ترجمه:- او(الله پورته کړي ليږلي دي په منځ د نورو راتلونکي کې)له مؤمنانو چې نه دي رسيدلي دوى هغو(پخوانيو)ته(پـه فضيلت کې).

په يو مبارک آيت کې راځي:( وَإِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْا أَمْثَالَكُمْ) محمد: (٣٨)

ترجمه:- او که وګرځيدی تاسې(له ايمان او سخا نه نو الله )به بدل راولي يو قوم بل بې له تاسې بيا به نه وي هغوی په شان د ستاسې.

تفسير شبير احمد عثماني چې په تفسير کابلي سره مشهوردی هغه د دې دواړو ايايتونو لاندې ليکلی دي چې پـه زرهـا وو علما وو دا ايت دامام صاحب لپاره پيش ګويي ګرزولې ده.

امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د هغه غوره پيړۍ منل شوی امام او مجتهد ؤ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يي پـه اړه فرمايلي دي :( إِنَّ خَيْرَكُمْ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ..). مختصر صحيح مسلم للمنذري

ترجمه:- ستاسې څخه غوره زما د زمانې خلک دي، بيا هغه څوک غوره دي چې ددوی څخه وروسته راځي يعنى تابعين، بيا هغه څوک غوره دي چې له تابعينوڅخه وروسته راځي .

همدا راز په يو حديث شريف کې راځي: (لو كان الدِّين عند الثُّريَّا لذهب به رجل من فارسَ - أو قال : من أبناء فـارِس - حتـى يتناوَله).أخرجه البخاري ومسلم والترمذي.

ترجمه:- که چيرې دين په ثريا ستوري کې وي نو خامخا به ورته به ورغلی وای يو سړی د فارس له خلکو څخـه ترڅـو چـې هغه ترلاسه کړي.

نو دواړه حديثونه چې سره يو ځای کړی نتيجه به يې صرف او صرف امام اعظم ابو حنيفة رحمـه اللـه شي څکـه هغـه رجـل فارس چې په خير القرون کې يې دين مرتب کړی و ، صرف او صرف امام صاحب ؤ او ددغه وجهې نه دهر خاص او عام په ژبه امام صاحب ته دابو حنيفة کنيت او د امام اعظم لقب جاري کړی شو.

امام سيوطي ددې صحيح حديث: { لَوْ كَانَ الْإِيمَانُ عِنْدَ الثُّرَيَّا لَذَهَبَ بِهِ رَجُلٌ مِنْ أَبْنَـاءِ فَـارِسَ حَتَّـى يَتَنَاوَلَـهُ } مصداق امـام ابوحنيفه بللی دی، او وايي چې په دې صحيح حديث کې امام ابوحنيفه رحمة الله فضيلت ته اشاره ده.(ردالمحتار).

شيخ الحديث علامه خليل احمد سهارنپوري وايي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د امام ابوحنيفه رحمة الله عليـه په اړه په هغه حديث کې د زېرې وينا کړې ده چې ابو نعيم په الحليه کې د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت

کړی دی، دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (لوکان العلم بالثریا لتناله رجال من ابناء فارس). حلیة الأولیاء

ترجمه:- که علم د ثریا ستوري پورې تړلی وي، نو هغه نارینه به ځان ور ورسوي چې د فارس د بچیانو څخه وي. په دې کې هېڅ شك نشته چې د دې څخه مراد امام ابوحنیفه دی ځکه چې د ګڼ شمېر محدثینو دا رأیه ده چې په حدیث کې د امام ابوحنیفه په اړه خوشخبري ورکول شوېده.

د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه دومره فضیلت او مقام دی چې د هغه په مناقبو کې لیکل شوي کتابونه اکثره یې د شافعي مذهب پیروانو لیکلي دي.

## د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله خوب:

په یو روایت کې راځي چې امام اعظم صاحب وویل: یوه شپه مې خوب ولیده چې زه یي زیات ورخطا کړم. خوب مې ولیده چې زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم قبر را سپړم . بصری ته لاړم او یو کس ته مې وویل چې لاړ شه د امام محمد بن سیرین څخه ددې خوب د تعبیر پوښتنه وکړه. هغه امام ابن سیرین ته ورغی او دا خوب یی ورته بیان کړ. امام ابن سیرین د خوب په تعبیر کې وویل: ددې خوب لیدونکی به د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث را سپړي .[سیر اعلام النبلاء]

امام ابوحنیفة رحمه الله سل ځلی الله رب العزة په خوب کې لیدلی دی. امام ابو حنیفة رحمه الله فرمایي : ما الله رب العزة یوکم سل ځلې په خوب کې ولیدلو ، بیا مې دځان سره دا فیصله وکړه ، که چیرې په سلم ځل باندې ولیدلو نوزه به ترینه خامخا د اسوال کوم چې دا مخلوق به ستا د عذاب څخه په ورځ د قیامت کې په څه باندې بچ شي؟، نو بیا مې په سلم ځل باندې ولیدلو سوال مې ترینه وکړو چې یا رب عز جلالک و جل ثناؤک و تقدست اسماؤ ک په څه به دا مخلوق ستا له عذابه په ورځ د قیامت بچ شي ؟ الله سبحانه و تعالی و فرمایل: هر څوک چې دالاندې کلمات سحر او ما ښام وایي ، نوزما دعذابه به محفوظ وي. (سبحان الله الابد الابد سبحان الله الواحد الاحد سبحان الله الفرد الصمد سبحان الله رافع السماء بغیر عمد سبحان من بسط الارض علی ماء جمد سبحان من قسم الرزق ولم ینس احداً سبحان من خلق الارض فاحصاهم عدد سبحان من لم یتخذ زوجة ولا ولداً سبحان الله الذي لم یلد ولم یولد ولم یکن له کفوا احد ) .[عقود الجمان]

فقهي شورا رامنځ ته کول:

امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله هغه څوک ؤ چې د اسلام په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره یي دعلمي او فقهي څیړنو او تدوین لپاره د وخت د برجسته علماوو او فقهاوو څخه څلوېښت کسیزعلمي او فقهي کمیسون جوړ کړ او د حنفي فقه یي د لومړي ځل لپاره تدوین کړه. علماوو لیکلي دي چې دغه فقهي کمیسیون له خوا تصویب شوو مسائلو مسائلو شمیر د ( ۱۲۷۰۰۰۰ ) د دولس لکه او اویا زرو څخه زیات ؤ، بناءً ویلی شو چې د حنفي فقهې د لومړي ځل تدوین په شورا سره شوی دی چې دا فضیلت نورو فقهو ته نه دی حاصل.

ابوبکر صدیق رضي الله عنه دلومړي ځل لپاره قرآن کریم تدوین کړ؛ خو امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله علیه د لومړي ځل لپاره فقه تدوین کړه.

## د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله عبادت:

امام ذهبی رحمه الله لاندې واقعات په خپل مشهور کتاب سير اعلام النبلاء کې ذکر کړي دي.

امام ابو يوسف رحمة الله عليه وايي: امام اعظم صاحب به په هره شپه کې ټول قرآن کريم په يو رکعت کې ختمولو.

يحيى بن عبدالحميد حماني رح د خپل پلار څخه روايت کوي چې هغه وويل: زه شپږ مياشتې د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه سره ملګری وم ما نه دی ليدلی هغه لره؛ مګر دا چې د سهار لمونځ به يې د ماسخوتن په اودس سره کولو او هره شپه به يې قرآن کريم ختمولو. په يو روايت کې راځي چې امام اعظم صاحب قرآن کريم (۷۰۰۰) اووه زره مرتبه ختم کړی دی.

قاسم بن معن رح وايي چې امام ابوحنيفه رحمه الله يوه شپه لمانځه ته ودريده او دا آيت يې تکرارولو {بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ، وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ} [القَمَرُ: ٤٦] او ورسره يې ژړل او تر سحر پورې يې الله تعالی عاجزي کوله.

امام مزی رح په تهذيب الکمال کې ليکلي دي: امام ابوحنيفه رحمه الله څلويښت کاله د ماسخوتن په اودس سره د سهار لمونځ کړی دی .هغه به د شپې په يو رکعت کې ټول قرآن کريم ختمولو. په يو روايت کې راځي چې امام ابوحنيفه رحمه الله په هغه ځای کې چې وفات شو (۷۰۰۰۰) اويا زره مرتبه يې په کې قرآن کريم ختم کړی دی.[تهذيب الکمال]

## د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله سخا او تقوا:

خطيب بغدادي په تاريخ بغداد کې ليکلي دي چې امام صاحب به کله بغداد ته دتجارت لپاره لاړو او بيا به چې کله و اپس دګټې سره کوفې ته راغلو، نو (فيشترى بها حوائج الاشياخ من المحدثين قـوتـهم وکسوتهم وجميع حوائجهم فيقول أنفقوا في حوائجکم ولا تحمدوا إلا الله فاني ما أعطيتکم من مالي شيئا) يعنې په هغه ګټې سره به يې د حديثو د مشائخو حاجتونه خوراک لباس او نور ضروريات ورته اخيستل او ورته به يې ويل: دا واخلئ او په خپلو حاجتونو کې يې مصرف کړئ او پرته له الله تعالی بل د هيچا صفت مه کوئ ما درته د خپل مال څخه څه نه دي درکړي.

يو زلمی امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله ته راغی او وه يې ويل چې حضرت ماته يوه جوړه ښې جامې په کاردی څنګه به ښه وي که تاسو زما سره دا احسان وکړی او د ښه سرې توب په بنا باندې زما امداد وکړی ؛ځکه چې زما د واده بندوبست دی، زه غواړم چې په دی موقع ښه مزيداره جوړه واغوندم چې سخرګنی ته مې سترګې اوچتې وي. امام اعظم صاحب ورته وويل: لس پنځلس ورځې صبر وکړه پنځلس ورځې پس چې هغه زلمی بيا راغی نو امام صاحب ورته قيمتي جوړه ور ته وښوله چې په هغه زمانه کې دهغې قيمت شل ديناره ؤ او د هغې سره يې يو دينار نقد هم ورکړ، زلمي چې د خپلې طمعې نه زيات قيمتي سوغات او نقد دينار وليدل؛ نو حيران شو . امام صاحب دهغه په حيرانتيا پوهه شولو او ورته يې وويل: په دې کې د حيرانتيا څه دي؟ دا خو ستا د مال حال دی . داسې وشو چې ما د خپل طرف نه څه تجارتي سامان ستا په نامه بغداد ته وليږلو هغه چې خرڅ شو؛ نو په هغې کې چې کومه ګټه په لاس راغله نو په هغې مې درته دا يوه جوړه جامې واخيستې او دا يو دينار په کې باقي پاتې شو او ماته خپل رأس المال هم په لاس راغلی . وروره اوس که ته دا سوغات اخلې خو ډيره ښه ده او که نه يې اخلې؛ نو زه به دا جوړه خرڅه کړم او دهغې قيمت به سره ديو نقد ديناره ستا دطرفه خيرات کړم.

همدا راز حفص ابن غیاث رح دامام ابوحنیفه رحمه الله سره په یو کاروبار کې شریک شوی ؤ . یوځلې امام صاحب ورته د سوداګرۍ مال ورکړو او بهر یې ولیږلو او د یو څیز په باره کې یې ورته په صفا ټکو کې وویل: چې دا عیب ژن دی. کله چې دا څوک اخلي نو اخیستونکي ته یې دا عیب په ګوته کړه چې پرې خبر شي. سره ددومره وضاحت او تاکید بیا هم دهغه څیز د خرڅون پر وخت حفص بن غیاث ته دا خبره را یاده نه شوه ، وروسته چې بیا امام صاحب ترې پوښتنه وکړه چې هغه مال دې په چا خرڅ کړی دی؟ نو اخیستونکی ورته هم نه یادیده . بیا حفص بن غیاث دټول مال قیمت راوړ او امام صاحب ته یې ورکړو او هغه خپله غلطي هم ومنله. ددې واقعې نه پس سمدستي امام صاحب ورسره دکاروبار شراکت ختم کړلو او حفص بن غیاث چې دسوداګرۍ مال یې په دیرش زره دیناره خرڅ کړی ؤ، هغه ټول امام اعظم صاحب دالله جل جلاله په نامه وویشلو او داسې یې ځان د شکمن مال څخه وژغورلو .

یوځل په کوفه کې یو چیلي غصب شوی ؤ امام صاحب پرې خبر شو؛ نو د خلکونه یې تحقیق وکړو چې د چیلي عمر څومره کیدی شي؟ د رایو اتفاق په دې باندې وشو چې دچیلۍ عمر اوه کالو پورې کیدی شي ، نو د چیلو غوښه یې تر اوه کالو پورې ونه خوړله . [الخیرات الحسان]

## امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله او نورو ته درناوی:

امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه داسې شخصیت ؤ چې د نورمذاهبو دنظرخاوندانو ته به یي تل په درنه سترګه کتل او دهغوی دنظر درناوی به یي کولو؛ اګر که دده سره به په مسئله کې مخالف هم ؤ.

دامام اعظم رحمة الله علیه له ځانه سره یوبل دمنلو مفکوره درلودله او تل به ئي کوښښ کولو چې خپل مخالف لوری ددلیل او منطق په وسیله سمې لارې ته را وبلي، او هیڅکله یي دا کوښښ نه کولو چې مقابل لوری قصدا خطاباسي او یا حتما پرهغه غالب شي .

له همدې امله خپل ځوی حماد یي د مناظرې کولو څخه په دې دلیل منع کړ چې په مناظره کې تل ددې کوښښ کیږي چې څرنګه خپل مقابل لوری مغلوب شي چې په دې کار سره دعلماؤ ترمنځ بغض او کینه پیدا کیږي او یو دبل احترام له منځه ځي. (یا حماد دع الکلام) [مناقب أبي حنیفة للمکي]

امام اعظم امام ابوحنیفه رحمة الله علیه به هیڅکله خپل نظر په بل چا نه تحمیلولو حتی چې په خپلوشاګردانو باندې به یي هم خپل نظر نه تحمیلولو او تل به ئي د نورو نظرونو ته احترام درلود. همدا وجه ده  چې په حنفي فقه کې زیات داسې موارد شته چې په یوه موضوع کې ابویوسف، محمد بن حسن، حسن بن زیاد رحمة الله علیهم اجمعین د خپل استاد له نظر سره مخالفت کړی دی چې دا ددې واضحه دلیل دی چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د نورو خلکو نظرته درناوی درلود.

دا چې امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه د نورو مذهبونو خاوندانو احترام درلود په فقهي مشورتي بورد کې یي داسې مجتهدین هم شامل کړي ؤ چې اکثره یې په خپله برخه کې مستقل مجتهد ؤ.

امام دراوردي رح وايې چې ما امام ابوحنيفه او امام مالک رحمة الله عليهما په مسجد نبوي کې د ماسخوتن لمانځه څخه وروسته وليدل چې دواړو علمي مذاکره کوله تر دې پورې چې ددې دواړو څخه به کوم يو په يوه خبره باندې ودريده او پر هغه خبره به يې عمل کولو هغه بل کس توقف کولو بې له دې چې هغه ته ووايې چې ته په خطاء يې او يا ورته تعسف وکړي؛ آن تردې چې د سهار لمونځ به يې هم په همدغه ځای کې وکړ.[ أخبار أبي حنيفة للصيمري]

## د وخت د حاکم سره مرسته کول:

په دې اړه د امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه نظر لکه د نورو اهل سنت وجماعت په څير ؤ.
امام ابوحنيفة رحمة الله عليه په دې عقيده درلودله چې د مسلمان حاکم، چارسنبالي او امير اطاعت کول واجب دي ترهغې پورې چې صريح کفر ورڅخه نه وي صادر شوی او بايد مرسته ورسره وشي، او دمسلمان حاکم په مقابل کې قيام کول حرام کار دی.
لکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: (اسمعوا وأطيعوا إلا أن تروا کفراً بواحاً عندکم من الله فيه برهان). متفق عليه
ترجمه:- د حاکم خبره واورئ او اطاعت يي وکړئ؛ مگر دا چې له حاکمانو څخه صريح کفر ووينی او دهغوی سره په جګړه کولو کې له تاسو سره ښکاره دليل موجود وي.
(ولا نری الخروج علی أئمتنا وولاة أمورنا وإن جاروا، ولا ندعو عليهم، ولا ننزع يداً من طاعتهم ). [الطحاوی]

ترجمه:- مونږ دخپلو امامانو، حاکمانو او چارسنبالو په مقابل کې قيام جائز نه ګڼو اګر که هغوی ظلم هم وکړي، هغوی ته بد دعائي هم نه کوو او دهغوی پرضد خلک نه هڅه ؤ، او دهغوی داطاعت څخه لاس نه اخلو.

دامام ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد د مسلمان حاکم په وړاندې قيام د بغاوت معنا لري چې شرعا محکوم عمل دی.

## د اهل قبله تکفيرولو موضوع:

امام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه په دې عقيده درلودله څوک چې مسلمان وي او قبلې ته لمونځ کوي ترڅو پورې چې د اسلام له ضرورياتو څخه نه وي منکر شوی دګناه په کولو سره نه کافر کيږي. په حقيقت کې دا اصل امام ابوحنيفه رحمة الله د پيغمبرعليه السلام دهغه احاديثو څخه استنباط کړی دی چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه په دې برخه کې روايت شوي دي. (لا نکفر أحدا من أهل القبلة). [کتاب المواقف] ترجمه: مونږ داهل قبله ؤ څخه هيڅوک نه تکفير ؤ.

دمسلمان په تکفيرولو کې د هغه وژل نغښتي دي؛ دا چې د يو چا اسلام ثابت او يقيني وي دده يقيني حالت پرته له قوي يقيني دليل څخه له منځه نه ځي.

## دامام ابو حنيفة رحمه الله فراست او ذکاوت :

اسماعيل بن حماد بن ابي حنيفة رحمه الله فرمايې چې زمونږ يو ژرنده ګړی ګاونډی ؤ، نهايت متعصب رافضي- شيعه ؤ د هغه سره دوه قچرې وې د تعصب نه يې په يوه قچره باندې ابو بکر نوم ايښی ؤ او په بله باندې عمر، اتفاقا يوې قچرېي په شپه کې په لغته باندې ووهلو او سريې پرې وچولو او مړشو ، امام صاحب چې کله پرې خبر شو وه يې ويل: تاسو تفتيش او معلومات وکړئ دا به هغه قچر وهلي وي چې ده پرې عمر نوم ايښی ؤ.هغوی چې معلومات وکړو همغه قچری و هلی ؤ.

ابن حجر دده وجه دا ښودلې ده چې حضرت عمر مظهر د جلال ؤ او حضرت ابوبکر صدیق مظهر د جمال ؤ . [تبییض الصحیفة]

یو ځلی امام صاحب یو داسی مسئله  چا راوړه حه دهغه وخت عالمانو هم نشوه حل کولی مسئله داوه چه یوخ ښځه کوټی ته پاس په زینه باندی ختله تر چه ځایه ختلی وه چه ناڅا په پری خاوند راغی نو هغه چه پدی حالت کی ولیده نو ډیر په قهر شو او په غوصه کی یې ښځه ته وویل که پورته وختی نو په دری کاڼو طلاقه یې او که ښکته راکوزه شوی هم پدی دری کاڼو طلاقه یې ، نو شرعی تدبیر پکار وو چه ښځه غریبه د طلاق دمصیبت نه پچ شی امام اعظم صاحب وویل جه دا خو اسانه خبره ده ښځه دی نه پورته خیژی او ندی ښکته راوکوزیږی چه په کوم ځای کی وی هلته دی ولاړه وی ځو زنانه دی لاړې شي او زینه دی سره دښځی سره  په ارام سره راواخلی او په ځمکه دی یې کیږدی طلاق به هم واقع نشی او سړی به هم بیغمه شی ځکه چه ښځه زینه باندی نه پورته لاړه او نه خکته راکوزه شوه.

## د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه په اړه د محدثینو، فقهاوو او مجتهدینو  ویناوې:

حارث بن عبدالرحمن وایې چې مونږ ټول طالبان به یو بل پسې د سماعة الحدیث لپاره د امام عطاء بن ابی رباح په مجلس کې ناست ؤ، کله به چې امام ابو حنیفه رحمه الله مجلس ته راغلو نو د هغه دپاره به یې پراخ ځای جو ړ کړو او ځان ته به نژدې کړو.نو امام عطاء بن ابی رباح چې د وخت مسلم محدث او امام ؤ د خپل شاګرد دومره قدر او عزت کوي ددینه معلومه شوه  چې شاګرد انتهایې کمالي شاګرد دی.

امام اعظم ابو حنیفه (رحمة الله علیه) ډیرحلیم ، خاموش او متفکر شخصیت ؤ.(عبدالله بن المبارک)

ما تر امام ابو حنیفه عالم، پرهیزګاره او هوښیار لیدلی نه دی.( یزید بن هارون)

امام اعظم ابو حنیفه (رحمة الله علیه) په پوهه، تقوی، بردباری او زیرکتیا کې ساری نه درلود.(احمد بن حنبل)

امام اعظم ابو حنیفه (رحمة الله علیه) د اسلامي امت لومړنی ستر عالم او مخکښ مجتهد ؤ.

فقه د امام ابوحنیفه او دهغه د شاګردانو کار دی. ( یزید بن هارون)

په فقهي میدان کې امام ابوحنیفه د ټولو منل شوی شخصیت دی.( امام شافعي)

خلک له فقهې ویده ؤ تر دې چې امام ابوحنیفه را ویښ کړل.(نضربن شمیل)

مونږ د امام ابوحنیفه له نظر څخه بل غوره نه دی پیدا کړی ځکه مو دهغه اقوال منلي دي.( یحیی بن سعید القطان)

پر مسلمانانو لازم دي چې په لمونځونو کې امام ابوحنیفه ته دعا وکړي.(عبدالله بن داود خربیی)

د امام ابوحنیفه رحمة الله د مقام او مرتبې په باره کې دا کافي ده چې امام شافعی رحمة الله فرمایلي دي: (من اراد الفقه فهو عیال علی ابی حنیفة) [الإنتقاء]

ترجمه:- څوک چې د فقهې علم غواړي  دوی ټول په فقه کې د امام ابوحنیفه رحمة الله عیال دي یعنی هغه ته محتاج دي.

امام مالک رحمه الله فرمایي: داسې سړی مې ولید یعنې امام ابو حنیفه که یې ویلي وای چې دغه ستنه د سرو زرو ده نو خامخا به یې په دلیل سره درته ثابته کړې وای.

وقال ابن المبارك: أبو حنيفة أفقه الناس. ابن المبارک وایي: ابوحنیفه پوه ترین د خلکو ؤ.

له عبدالله بن مبارك څخه وپوښتل شول چې مالك ډېر پوهېږي که ابو حنیفه؟ ده وویل: ابو حنیفه تر ټولو خلکو ښه پوه دی.

ستر محدث یحیٰ بن معین فرمایی: امام اعظم ثقه دی او له هغه نه مې هيڅ ضعيف روايت نه دی اورېدلی.
عبد الله بن شبرمه رح وايي چې مورګانې د امام صاحب په څير عبقري کس له زيږونې څخه عاجزې دي.
علي بن الجعد رح فرمايی چې زهير بن معاويه رح ته يو څوک راغی چې زه د امام عظم له خوا راغلی يم هغه ورته وويل چې د هغه سره يوه ورځ تيرول داسې ده؛ لکه ماسره چې يوه مياشت تيره کړې.
ځينې هغه محدثين او فقهاء چې امام اعظم صاحب مدح او صفت يې کړی دی په لاندې ډول دي: مسعر بن كدام رح، ايوب سختياني رح، سلمان بن مهران، الاعمش رح، سفيان ثوري رح، مغيرة بن مقسم الضبي، يحی بن سعيد القطان رح، ابن جريح مكي، ابو عاصم النبيل رح او داسې نور يعنې د دوی تعداد پنځه شپيتو ته رسيږي چې د امام صاحب مدح او صفت يې کړی او په علم حديث، قرآن او فقه کې يې ستر امام او فقيه ګڼلئ..

امام ذهبي رح په [العبر فى اخبار من غبر] کې ليکلي دي؛ چې هغه په فهم او ذکاوت کې د خپل هم عصرو نه ډېر لوی ؤ.
د لسمې سليزې نامتو محدث علامه جلال الدين سيوطي هم امام صاحب په حفاظ حديث کې شميرلې دی.
خارجه بن مصعب وايي: ما د زرګونو علماوو سره ليدلي دي په ټولو کې مې درې يا څلور د ډېرعقل خاوندان پيدا کړي او په هغو دريو يا څلور کسانو کې يې امام ابوحنيفه هم ذکر کړی ده.
يحيى بن سعيد قطان وايي: د امام صاحب سره کيناستلی يم درس مې ترې ويلی دی، کله به چې ما يې مخ مبارک ته وکتل نو پوه به شوم چې د الله تعالى څخه ډېر وېريده. (تاريخ بغداد)
يزيد بن هارون وايي: څوك مې هم له ابو حنيفه رح نه زيات نرم خويه نه دي ليدلي.
معاويه الضرير وايي: له ابو حنيفه رح سره مينه له سنتو څخه ده.

امام مسعر رح وايې : څوک چې امام ابوحنيفه رحمه الله دالله تعالى او خپل منځ کې واسطه وګرځوي؛ زه اميد لرم چې هيڅ ويره به ورته نه وي ، داامام ابو حنيفه د زيات احتياط له امله.

### د امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه منهج او تګلاره :

**امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله خپل منهج او تګلاره په لاندې تو ګه بيانوي:**

زه لومړی په کتاب الله عمل کوم که چيرې ما په کتاب الله کې د موضوع دليل پيدا نکړ ، د هغه مو ضوع دليل د رسول الله صلى الله عليه وسلم په سنتو کې لټوم او د ثقه روايانو په صحيحو روايتو عمل کوم ، که چيرې د موضوع دليل مې په کتاب الله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په سنتو کې پيدا نکړم بياد رسول الله صلى الله عليه وسلم اصحابو ته رجوع کوم دځينو صحابه نظر اخلم او د ځينو نورو نظر پريږم او ددوی له نظرونو څخه نه وځم او کله چې خبره امام ابراهيم نخعی او شعبي او حسن بصری او ابن سيرين او سعيد بن مسيب ته ورسيږي هغوی اجتهاد کړی دی او زه هم اجتهاد کوم لکه څرنګ چې هغوی اجتهاد کړی دی.[ أخبار أبي حنيفة للصيمرى]

البته د امام اعظم رحمه الله په آحاديثو کې د زيات احتياط له امله دهغه شرط يو څه سخت ؤ. وَقَالَ أَبُو يُوْسُفَ: قَالَ أَبُو حَنِيْفَةَ: لاَ يَنْبَغِي لِلرَّجُلِ أَنْ يُحَدِّثَ إِلاَّ بِمَا يَحْفَظُهُ مِنْ وَقْتِ مَا سَمِعَهُ. [سير اعلام النبلاء]

امام ابویوسف رحمه الله وايي چې امام ابوحنيفه رحمه الله وفرمايل: مناسب نه دي سړي تـه چـې بيـان كـړي حـديث مگـر يواځې هغه حديث چې ورته ياد وي د لومړۍ ورځ څخه.
امام اعظم صاحب د حديثو تر هرچا زيات متبع ؤ، امام صاحب به د ضعيف حديث پـه مقابـل كـې قيـاس اوراى پريښـودله، امام صاحب به په ضعيف حديث باندې عمل کولو او د هغه په مقابل کې به يې قياس ترک کولو .
امام نضر بن محمد المروزي فرمايي: (لم ار رجلاً لزم للاثر من ابى حنيفة). يعني امام صاحب څخه زيات هيڅوک په حديثو باندې كلک دريدونكې مي نه دی ليدلی.
امام طحاوی الحنفی څخه نقل دی چې امام ابو حنيفة به په مسئله کې ديو سړي سره بحث کولو د بحث په دوران كې بـه خاموش شوه. (فسکت ابو حنيفة فقال بعض اصحابه لا تجيبه يا أبا حنيفة فقال بما اجيبـه وهـو يحـدثني بهـذا عـن رسـول الله؟).[شرح العقيدة الطحاوية]. يعني امام صاحب به چپ او خاموش پاتې شو هغه ته به ځينو ملگرو وويل چې ته هغه ته ځواب ولی نه ورکوئ؟ امام صاحب به وفرمايل چې هغه ماته در سول الله احاديث بيانوی زه هغه ته څه جواب ورکړم.

په دې باره کې امام ابن تيميه رح ليکلي دي:(وَمَنْ ظَنَّ بِـأَبِي حَنِيفَـةَ أَوْ غَـيْرِهِ مِـنْ أَئِمَّـةِ الْمُسْلِمِينَ أَنَّهُـمْ يَتَعَمَّـدُونَ مُخَالَفَـةَ الْحَدِيثِ الصَّحِيحِ لِقِيَاسِ أَوْ غَيْرِهِ فَقَدْ أَخْطَأَ عَلَيْهِمْ وَتَكَلَّمَ إمَّا بِظَنِّ وَإِمَّا بِهَوَى فَهَذَا أَبُو حَنِيفَةَ يَعْمَلُ بِحَـدِيثِ التـوضي بِالنَّبِيـذِ فِي السَّفَرِ مُخَالَفَةً لِلْقِيَاسِ وَبِحَدِيثِ الْقَهْقَهَةِ فِي الصَّلَاةِ مَعَ مُخَالَفَتِهِ لِلْقِيَاسِ ؛ لِاعْتِقَادِهِ صِحَّتَهُمَا وَإِنْ كَانَ أَئِمَّةُ الْحَدِيثِ لَـمْ يُصَحِّحُوهُمَا) مجموع الفتاوى

ترجمه:- او څوک چې گمان کوي په امام ابوحنيفه رحمه اللـه يـا نـورو امامـانو پـه هكلـه چـې دوی قصدا د صـحيح حـديث مخالفت کړی دی د قياس د وجې نه او يا دبل وجې نه دا په حقيقت کې هغوی په خطا کې اچول دي او كلام يې كړی دی يا په کمان سره او يا په هوا سره ، دا امام ابوحنيفه رحمه الله دی چې په سفر کې د مميزو په اوبو بانـدې اودس کولـو حـديث باندې عمل کوي د قياس مخالف او په حديث د خنده قهقهه سره چې لمونځ فاسد وي او اودس ماتـه وي عمـل كـوي او داد قياس مخالف دی؛ ځکه د هغه په عقيده دا صحيح حديثونه دي ولو كه نورو ائمه وو دا دواړه حديثونه صحيح نه دي گڼلي.

علامه ملاعلی القاری داحنافود مذهب په بـاره کـې لـيکلي:( أن الحـديث الضـعيف عنـدنا مقـدم عـلى الـرأي المجـرد) [مرقـاة المفاتيح] يعني ضعيف حديث زمونږ په مذهب کې پر قياس باندې مقدم دی.